# كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ

له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم زه له اوږې ونیولم او ويې ویل: «كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ»«په دنيا کې داسې اوسېږه لکه پردی يا مسافر»، او ابن عمر به ويیل: کله دې چې ماښام کړ نو د سهار انتظار مه کوه، او کله چې دې سهار کړ نو د ماښام انتظار مه کوه، روغتیا دې د ناروغ او ژوند دې د مرگ پر وړاندې غنیمت وګڼه.
[صحيح] [بخاري روايت کړی دی]

ابن عمر رضي الله عنهما يادونه کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه له اوږې ونيو- اوره د مټ او ولې يو ځای کوونکې برخه ده - او ورته يې وويل: په دنيا کې داسې اوسه لکه ته چې پردی يې، داسې يو ښار ته تللی يې چې د اوسېدو لپاره پکې کور نه وي، او نه پکې داسې اوسېدونکی وي چې پرې ډاډه شې، له کورن، اولادونو او اړيکو نه خالي ځای وي؛ کوم چې د خالق تعالی نه د بوختيا لامل دي، بلکې له پردي نه هم ور آخوا اوسه لکه لاروی چې خپل هېواد ته په لاره روان وي ځکه چې کېدی شي پردی په بېګانه هېواد کې اووسيږي او هغه يې استوګن ځای شي، د لاروي پر خلاف چې هېواد ته يې په لاره وي، ځکه هغه داسې وي چې تم کيږي خو ودريږي نه، او ټينګار يې پر دې وي چې خپل وطن ته ورسيږي، نو لکه څنګه چې مسافر دومره څه ته اړتيا لري چې تر کوره يې ورسوي، همدارنګه مؤمن هم په دنيا کې دومره څه ته اړتيا لري چې خپل مقصد ته يې ورسوي. نو ابن عمر پر دې نصيحت عمل وکړ او ويل به يې: کله دې چې سبا کړ نو د بيګا انتظار مه کوه، او کله دې چې بيګا کړ نو د سبا انتظار مه کوه، او ځان دې په هديرو کې د مړو په ډېر وشمېره، او ځکه چې عمر له روغتيا او ناروغتيا خالي نه وي. نو له ناروغتيا وړاندې په عبادت سره بيړه وکړه، او روغتيا د نيکو عملونو لپاره غنيمت وګڼه؛ وړاندې له دې چې ستا او د روغتيا تر منځه واټن رامنځته شي، او په دنيا کې ژوند غنيمت وګڼه، نو هغه څه پکې راټول کړه چې له مرګ نه وروسته درته ګټه ورسوي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4704